# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه ـ خبر نامه

۲۵ اسد_سال ۱۴۰۲



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان | صفحه


د مهاجرینو چارو سرپرست د (UNHCR) موسسي له رئیس سره وکتل------------------------------------------1

بیش از دو هزار مهاجر افغان از ایران، به وطن عودت نمودند--------------------------------------------------2

بلخ کې لسګونو کورنیو سره مرستې وشوې------------------------------------------------------------------------2

به 200 خانواده در ولایت لغمان کمک نقدی توزیع شد -------------------------------------------------------------3

د ایران څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول---------------------------------------------------4

برېتانیا: اوبو کې د باکتري تر موندل کېدو وروسته کډوال له کښتۍ څخه ایستل شوي --------------------------------5

یک سازمان امدادرسان بیش از ۶۰۰ پناهجو را در مدیترانه نجات داد ----------------------------------------------7

ریکارد جدید در مهاجرت های غیرقانونی به اتحادیه اروپا ثبت شد ---------------------------------------------------8

د پاریس څارنوالی انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې په اړه پلټنې پیل کړې-----------------------------9


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو سرپرست د (UNHCR) موسسي له رئیس سره وکتل

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د افغانستان لپاره د کډوالو عالي کمشنرۍ (UNHCR) له رئیس ښاغلي لیونارد زولو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل

په دغه ناسته کې د مهاجرینو چارو وزارت او یونیسیار ادارې ترمنځ په ګډو همکاریو، درې اړخیزه ناستو او ۲۰۲۳ م کال د (PPA) پروژو په اړه خبرې وشوې

ښاغلي زولو د مهاجرینو چارو وزارت همکاري د خپلې ادارې لپاره مهمه وبلله او د ګډو همکاریو په کړنو یې خوښي څرګنده کړه، نوموړي وویل، مونږ خپلې ژمنو ته متعهد یو او د نورو جانبي مسایلو له امله باید زموږ اړیکې خرابې نشي

د مهاجرینو چارو وزیر وویل، د مهاجرینو وزارت او یونیسیار ادارې د ګډ کار اوښه تعامل له امله مونږ ډېرې لاسته راوړنې لرو، مونږ اول باید مخکینۍ ټولې ستونزې حل او راتلونکي پروژې د ټاکل شوو اصولو او پریکړو له مخې سر ته ورسوو

مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمان راشد تېرې څلور اړخیزه ناستې ته په اشارې وویل، په ناستو کې چې کومې ژمنې کېږي باید عملي جنبه ولري او پایله یې ولس په سترګو ووینې



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook*: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## بیش از دو هزار مهاجر افغان از ایران، به وطن عودت نمودند

ویب سایت وزارت



**دو هزار و 544 نفر مهاجر افغان، به تاریخ 22 اسد از ایران به کشور برگشتند.**
**به گفته آمر سرحدی اسلام قلعه ولایت هرات از میان افراد مذکور، 939 نفر ایشان، غرض در یافت کمک به نماینده گی دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی و مساعدت های خوراکی و غیر خوراکی به ایشان توزیع شد.**

## بلخ کې لسګونو کورنیو سره مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت



**د صراط الجنته خیریه بنسټ له لورې د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ ۴۰ کورنیو سره د زمري په ۲۲مه د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې وشوې.**
**یادې کورنۍ د مهاجرینو چارو ریاست له لورې د فردوسي د مهاجرینو ښارګوټي کې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې چې له پېژندنې وروسته هرې کورنۍ ته ۳ قلمه خوراکي او غیر خوراکي توکي وویشل شول.**
**د یوبل خبر له مخې ۳۴ تنه راستنېدونکي چې د ایران څخه هېواد ته راستانه شوي و د مهاجرت نړیوال سازمان له لورې ورته په بېلابېلو کټګوریو کې ۳۹ زره او ۴۰۰ افغانۍ، ۳۰ زره او ۴۰۰، ۲۱ زره او ۴۰۰ او ۱۲ زره او ۴۰۰ افغانۍ نغدې وویشل شوې.**

## به 200 خانواده در ولایت لغمان کمک نقدی توزیع شد

ویب سایت وزارت




**برای 200 خانواده در ولایت لغمان کمک نقدی کمیته بین المللی نجات به تاریخ 22 اسد توزیع شد.**

**این کمک بمنظورتداوی خانواده های مریض ، معتاد و بی سرپناه بوده که قبلاً از جانب اداره مهاجرین آن ولایت شناسایی و به هریک مبلغ 18 هزارافغانی داده شد.**

## د ایران څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت



د ایران څخه دوه زره او ۵۴۴ تنه افغان مهاجر د زمري په ۲۲مه هېواد ته راستانه شول.
د هرات ولایت د اسلام قلعه د سرحدي آمر په خبره د یادو راستنېدونکو له ډلې۹۳۹ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول، چې ورسره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې وشوې.

## برېتانیا: اوبو کې د باکتري تر موندل کېدو وروسته کډوال له کښتۍ څخه ایستل شوي

مهاجرنیوز



د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت د تېرې جمعې په ورځ د بیبي ستاکهولم د کانالیزاسیون په سیستم کې د لیجېنالا باکتري تر موندل کېدو وروسته ۳۹ تنه کډوال له دغې کښتۍ څخه ایستلي دي. په ورته مهال سیمه ایز چارواکي وایي چې څلور ورځې مخکې یې اړوندو مسولینو ته په دې هکله خبر ورکړی و.

برتانوي رسنۍ د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت له قوله خبر ورکوي چې د تېرې جمعې په ورځ (د اګست ۱۱مه) له بیبي ستوکهولم کښتۍ څخه چې په پورتلنډ بندر کې یې لنګر اچولی دی ۳۹ کډوال ایستل شوي دي .

د کورنیو چارو وزارت یو ویاند <u>دېلي مېل</u> ته ویلي دي چې د دغې کښتۍ د اوبو په سیستم کې د لیجېنالا باکتري لیدل شوې چې ژورو ازموینو ته اړتیا لري. نوموړي زیاته کړې ده چې هغه ۳۹ کډوال چې تېره اونۍ بیبي ستاکهولم ته پورته شوي وو «د احتیاط په خاطر» له یادې کښتۍ څخه ایستل شوي دي.

د کورنیو چارو وزارت ویلي دي چې د دورسېټ ښار د روغتیایي خدماتو له خوا د ترسره شویو ازمایښتونو پایلو ته انتظار باسي. له کښتۍ څخه ایستل شوي کډوال د موقت وخت لپاره هوټلونو کې ځای پر ځای شوي دي.

بل پلو بیا د پورتلنډ د ملګرتیا سازمان غړې هیتر جونز دېلي مېل ته ویلي دي چې د کښتۍ د اوسېدونکو پیغامونه یې ترلاسه کړي دي. هغه زیاته کړې چې چارواکو کډوالو ته په دې اړه څه نه وو ویلي. په وینا یې، کډوالو اندېښنه درلوده او پوښتنه یې کوله چې مشکل څه دی.

د <u>ګارډین</u> د خبر له مخې د دورسېټ ښار چارواکو د تېرې دوشنبې په ورځ (د اګست ۷مه) د کورنیو چارو وزارت مسولینو ته د دغه باکتري د موندل کېدو په اړه خبر ورکړی و. خو د کورنیو چارو وزارت وایي چې د پنجشنبې په ورځ یې په دې اړه خبر ترلاسه کړی دی .

لیجیېنالا باکتري د لیجیونلوز ناروغۍ سبب ګرځېدلی شي چې سینه بغل ته ورته او وژونکې ده. د روغتیا نړیوال سازمان وایي چې ډېری وختونه خلک د ناپاکو اوبو د څښلو له امله په دې ناروغۍ اخته کېدلی شي.

بیا ولولئ :<u>برېتانیا هغه کډوال ګواښلي چې کښتۍ کې له سیرېدو څخه یې ډډه کوله</u>

»نامناسب» او «د انساني کرامت خلاف» استوګنځای

بیبي ستوکهولم یوه درې پوړیزه بېړۍ ده چې ۲۲۲ کوټې، سالون، تلویزیون، پخلنځی، د انټرنټ او د لوبو ځایونه لري. برېتانوي چارواکي په پام کې لري چې نږدې ۵۰۰ پناه غوښتونکي په دغه کښتۍ کې ځای پر ځای کړي.

د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت تېره دوشنبه بیبي دغې کښتۍ ته د پناه غوښتونکو د پورته کولو لړۍ پیل کړه. ټاکل شوې وه چې د کډوالو لومړۍ ډله د اګست په لومړۍ نېټه بیبي ستاکهولم ته انتقال شي، خو چارواکو په وروستۍ شېبه کې د امنیتي څېړنو د ترسره کولو په موخه <u>کښتۍ ته د پناه غوښتونکو استول وځنډول</u> .

د برېتانیا حکومت د روان کال په اپریل میاشت کې اعلان کړی و چې د لګښتونو د کمولو په موخه <u>کډوال په کښتیو کې ساتل غواړي</u> .هغه مهال حکومت دغې پرېکړې د ګڼو بشري سازمانونو غبرګونونه راپارولي وو.

د کډوالو شورا مشر انور سولومون په کښتیو کې د کډوالو ځای پر ځای کولو «نامناسب» او «د انساني کرامت خلاف» بللي وو. همدارنګه د بخښنې نړیوال سازمان کې د کډوالو د حقونو مسول ستیو والډېز سیمونډز ویلي وو چې حکومت غواړي په دې کار سره خپله ناکامي پټه کړي .

## یک سازمان امدادرسان بیش از ۶۰۰ پناهجو را در مدیترانه نجات داد

مهاجرنیوز



**یک سازمان امدادرسان اعلام کرده که یک کشتی نجاتش تنها در دو شبانه روز توانسته ۶۰۰ پناهجو را از شرایط بحرانی در بحیره مدیترانه نجات دهد. برای نجات این انسان های آواره ۱۵ ماموریت انجام شده است.**

**سازمان امدادرسانی "اس او اس مدیترانه" اواخر روز جمعه اعلام کرد که کشتی نجات "اوشین وایکینگ"و خدمه اش توانسته اند این افراد را از درون قایق های کوچک غیراستندرد در شرایط مرگبار بحیره مدیترانه نجات دهند.**

**این گروه امدادرسان اروپایی در حسابش در شبکه "ایکس"، توییتر سابق نوشته که بیشترین پناهجویان در مسیر بین ساحل اسفاکس در تونس و جزیره لامپادوزا در ایتالیا نجات داده شده اند.**

**این مسیر یکی از مرگبارترین مسیرهای مهاجرت غیرقانونی در مدیرانه می باشد و تاکنون هزاران تن جان شان را در آنجا از دست داده اند.**

**این سازمان گفت که عملیات نجات توسط مقامات ایتالیایی هماهنگ شده است. بر اساس گزارش این سازمان امدادرسان، در مجموع ۶۲۳ نفر از جمله ۱۵ طفل و ۱۴۶ نوجوان زیرسن قانونی بدون سرپرست نجات یافتند. این انسان های پناهجو از کشورهای سودان، گینه، بورکینافاسو، ساحل عاج، بنین و بنگله دیش بودند.**

**به گفته سازمان امدادرسانی "اس او اس مدیترانه"، نجات یافته ها در کشتی "اوشین وایکینگ" سلامت و تحت مراقبت هستند. گفته شده که قرار است برخی از آنان در ساحل لامپدوزا و بقیه به سیویتاوچیا در شمال غربی رم برده شوند.**

تعداد مهاجرانی که به قاچاقچیان پول می پردازند تا از گذرگاه های اقیانوسی خطرناک عبور کرده و به اروپا برسند، هر سال افزایش می یابد. سالانه صدها نفر در نتیجه غرق شدن قایق های شان در این مسیر جان می بازند.

## ریکارد جدید در مهاجرت های غیرقانونی به اتحادیه اروپا ثبت شد

مهاجرنیوز




آژانس حفاظت از مرزهای اتحادیه اروپا گزارش داده که در هفت ماه اول سال جاری بیش از۱۷۶ هزار و ۱۰۰ مهاجر تلاش کرده‌اند به صورت غیرقانونی به اتحادیه اروپا برسند .این بالاترین رقم از ۲۰۱۶ به این سو بوده است.

فرانتکس در این گزارش که به روز جمعه نشر کرده افزوده است که تنها در ماه جولای سال جاری، ۴۲ هزار و ۷۰۰ هزار نفر را ثبت کرده که بالاترین رقم از ماه مارچ سال ۲۰۱۶ به این سو بوده است. این رقم در مقایسه با ماه مارچ سال قبل، افزایش ۱۹ درصدی را نشان می دهد.

براساس این گزارش، بیش از نیمی از این موارد سفرهای غیرقانونی (۸۹ هزار ۴۷ مورد)، از طریق بحیره مدتیرانه مرکزی، یعنی از لیبیا و تونس، از مسیر سیسیل و مالتا صورت گرفته است که حاکی از دو برابر شدن عبور غیرقانونی از این راه بوده است.

براساس ارزیابی فرانتکس، فشار شدیدمهاجرت از این طریق، ممکن است در ماه های آینده ادامه یابد، زیرا قاچاقبران انسان با توجه به رقابت های شدید میان گروه های جنایت پیشه، قیمت های نازل تر را برای عبور از طریق بحیره مدتیرانه عرضه می کنند.

برعکس، از همه مسیرهای دیگر شمار موارد سفرهای غیرقانونی رو به کاهش بوده است .این امر در مورد مسیر بالقان غربی نیز صدق می کند که با ثبت ۵۲ هزار و ۲۰۰ مورد در رده دوم بعد از مسیر بحیره مدیترانه مرکزی قرار داشت.

در این ارتباط، رقم کاهش در مقایسه با سال قبل در همین مدت، ۲۶ درصد بوده است .فرانتکس گفته است که دلیل این کاهش، وضع قاعده های شدید ویزا توسط کشورهای حوزه بالقان بوده است.

## د پاریس څارنوالی انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتی ډوبېدو پېښې په اړه پلټنې پیل کړې

مهاجرنیوز




د پاریس څارنوالي وایي چې انګلیس کانال کې یې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې په اړه پلټنې پیل کړې دي. دغه غمجنه پېښه د تېرې شنبې په ورځ په انګلیس کانال کې رامنځته شوه چې له امله یې ۶ افغان کډوالو خپل ژوند له لاسه ورکړ .

د کډوالې پر مړګونو لارو بله غمیزه. د پاریس څارنوالي وایي چې د فرانسې او برېتانیا ترمنځ اوبو کې د شپږو افغان کډوالو له مړینې وروسته پاریس کې له پلان شویو جرمونو سره د مبارزې عدلي او قضایي ادارې یا ژونالکو د دې قضیې په اړه دوسیه پرانیستې ده. له دې وړاندې د بولونی سور مېر څارنوالی ویلي وو چې د دغې پېښې په اړه یې تحقیقات پیل کړي دي.

زیاته شوې ده چې د فرانسې سرحدي پولیس، د سمندري ژاندارمرۍ تحقیقاتي څانګه او د کډوالو د قاچاق سره د مبارزې اداره له پلان شویو جرمونو سره د مبارزې عدلي او قضایي ادارې یا ژونالکو د پلټنو بهیر کې ګډون لري.

نږدې ۶۰ کسان ژغورل شوي

دغه پېښه د تېرې شنبې په ورځ (د اگست ۱۲مه) په انگلیس کانال کې رامنځته شوه. د بولونی سور مېر د څارنوالی مرستیال فیلیپ سباتیې ویلي دي چې پېښه کې شپږ افغانان وژل شوي چې عمرونه یې د ۳۰ کلونو شاوخوا دي.

د څارنوالی په وینا، یاده کښتی د شپې په ۲ بجو د پا دو کالې د سنگات په ساحلي اوبو کې ډوبه شوه. د مانش او شمالي سمندر د قومندانی ژغورونکې بېړۍ کورموران د شنبې په سهار په سمندر کې د ډوبې شوې کښتی موقعیت وموند.

دغې قومندانی په یوه خبرپاڼه کې ویلي دي چې د کډوالو لېږدوونکې بېړۍ کې ۶۵ تر ۶۶ کسان سپاره ول چې ډېری یې د افغانستان اصلي اوسېدونکي وو. اته تنه چې سطحي ټپونه یې درلودل تر ژغورل کېدو وروسته د کالې روغتون ته وړل شوي دي. پولیسو له پاتې نورو کسانو څخه تحقیقات کړي دي.

که څه هم د پاریس څارنوالی پرون یکشنبه (د اگست ۱۳مه) وویل چې تر دې دمه د پېښې د قربانیانو کره شمېر قطعي شوی نه دی، خو یوه ورځ مخکې بیا د مانش او شمالي سمندر قومندانی ویلي وو چې د شنبې په شپه یې د لټون عملیات درولي دي .یادې قومندانی د تېرې شنبې په ورځ دغه پېښه کې د یوه یا دوه احتمالي کسانو د لادرکه کېدو خبر ورکړی و.

د قومندانی یوې سرچینې زیاته کړې وه چې له دغې پېښې څخه ۵۸ یا ۵۹ کسان ژغورل شوي او برېتانیا او فرانسې (۲۳ تنه برېتانیا او ۳۶ تنه نور د فرانسې سواحلو) ته انتقال شوي دي.

غبرگونونه

د فرانسې او برېتانیا په اوبو کې د کډوالو د ډوبېدو پېښې پراخ غبرگونه راپارولي دي. شاوخوا ۲۰۰ کسان چې په ډله کې یې کډوال هم وو پرون شپه د فرانسې په کالې ښار کې راټول شول او قربانیانو ته د درناوې په پار یې د ساحل پر لور لاریون وکړ.

د فرانسې لومړۍ وزیرې الیزابت بورن د شنبې په ورځ پر خپله ټویټر پاڼه له قربانیانو سره همدردي وښودله او د ژغورونکو ډلو تعهد یې وستایه. همدارنگه د سمندري چارو وزیر اروې برویل د دغې پېښې پړه «د مجرمو قاچاقچیانو» پر غاړه واچوله او ویې ویل چې له دغو ډلو سره مبارزې ته ادامه ورکوي.

د برېتانیا د کورنیو چارو وزیر سوېلا برېورمن هم دا پېښه یوه «غمیزه» بللې او لیکلي یې دي چې په دې اړه یې د برېتانیا له سرحدي ځواکونو سره خبرې کړې دي.

بل پلو بیا د کډوالو د شورا اجرایوي مشر انور سلیمان د ژغورونکو هڅه ستایلې خو د برېتانیا پر حکومت یې غږ کړی و چې د انساني او منظم پناه غوښتنې سیستم جوړولو لپاره کار وکړي.

د سمندر له لارې برېتانیا ته د کډوالو اوښتل

له دغې پېښې دوه ورځې مخکې د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت ویلي وو چې د تېرې پنجشنبې په ورځ ۷۵۵ کسانو په وړو کښتیو کې ځانونه برېتانیا ته رسولي دي. د دغه وزارت په وینا له ۲۰۱۸ راهیسې تر ۱۰۰ زره زیات کډوال د سمندر له لارې برېتانیا ته اوښتي دي چې په ډله کې یې ۸۶۰۰ افغانان هم دي.

بیا ولولئ :<u>انگلیس کانال: له ۲۰۱۸ راهیسې تر ۱۰۰ زره ډېر کډوال برېتانیا ته اوښتي دي</u>

**په ۲۰۲۲ کې د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته د اوښتونکو کډوالو شمېر (۴۵۷۵۵) ریکارډ کچې ته رسېدلی و. همدارنګه د روان میلادي کال له پیل څخه تر دې مهاله ۱۵۰۷۱ کسانو په وړو کښتو کې برېتانیا ته اوښتي دي چې په دې ډله کې څه باندې ۹۰۰ افغانان هم دي.**

**په ۲۰۲۲ کې پنځو کډوالو مانش کانال کې خپل ژوند له لاسه ورکړی او پنځه تنه نور لادرکه شوي وو. همدارنګه د ۲۰۲۱ په نومبر میاشت کې انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې له امله ۲۷ کسان ووژل شول چې په ډله کې یې ښځې او ماشومان هم ول .**

خبرنامه